دپخپل شهادت سره مو ښکاره کړه چې موږ ته ستاسو...
نابر مرم كو بښيار بري هيوادلكم شاكو باشند

(٤) صفحه

شهادت

ارګان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

نمبر مسلسل (١١٥٠) سال نزدهم ، شماره (٤٧) چارشنبه (١٦) جوزای ١٣٧٥ هـ ش ،(١٩) محرم الحرام ١٤١٧ هـ ق ،(٥) جون ١٩٩٦ م

الهي لارښووني

اوهغه کسان چې نیکمرغه ثابت شي ،نو هغوي به جنت ته لاړشي اوهلته به دتل لپاره اوسیږي ترڅو پورې چې ځمکه اوآسمانونه برقراردي ، مګر داچې ستارب نور څه وغواړي .په هغو بانديې به دائمي ورکړې پېرزوینه وشي چې دهغي لړي به هیڅکله غوڅیدونکي نه وي .

نو اې پیغمبره ! ته دهغو معبودانو له پلوه په څه اشتباه کښي مه لویږه چې دغه خلك دهغو عبادت کوي ،دوي خو هماغسي عبادتونه کوي لکه څنګه چې مخکې ددو ي پلرونواو نیکونو کول،موږبه ددوي برخه دوي ته بشپړه ورکړو، بې له دي نه چې په هغې کي څه کموالي دي.

(هود -٨-١٠٩-١٠)

په کندهار کی دمتوازی حکومت اعلان تربحث لاندی نیول کیږی

پیرگیلانی ددی احتمالی حکومت دعظمیٰ صدارت دکاندیداتوری له پیشنهاد سره تللی

ځینی بهرنی طرفونه په غیر مریی بنه دنوموړی طرحی په گټه فعالیت کوی

دطالبانو یوفرکسیون ددی طرحی ملاترکوی خومجددی ، خالص اومحمدی ته یی تائید کران معلومیږی

کویټه - دجوزا ١٥ مه : پرون ماښام له کویټي ځخه یوه مسئول سیاسي شخصیت چي دنوم له افشا کولو ځخه یې معذرت وغوښت شهادت ته په تیلفون وویل چې دکندهار په غونډه اومذاکراتو کي دیوه متوازي حکومت داعلان موضوع ترجدي بحث لاندې نیول کیږي اودځینوحلقو له خوا طالبان ددیو

(٤)مخ

مونږ په زاره حکومت کی نه شاملیږو، بلکې نوی اداره به جوړیږی ، نوی کورنی اوبهرنی سیاست به تاکل کیږی

مونږاوجمعیت دواړه یوااسلامی افغانستان غواړو

طالبانو ته وایو چې دتیریوه کال تجربی وښوده چې کابل نیول اسانه نه دی

په افغانستان کی د فدرالی سیستم معنی تجزیه ده

مونږ، له جمعیت سره ترون لاسلیك کړچې مونږ دملت دژغورنې لپاره یله کومه لاره نه درلوده اوددې اتحاد ټول متصد دادي چې دافغانستان دغه دردناك حالت بدل شي، هیوادته سوله او امنیت راشي ، خارجي مداخلي بندې شي او افغانان وکړاي شي چې خپل سرنوشت په خپله وټاکي .

داخبرې دحزب اسلامي امیر ورور حکمتیار له امریکاغږ راډیو سره تیره شپه دیوې مرکې په ترځ کي وکړي .

ورور حکمتیار زیاته کړه چې دجنګ دخاتمي لپاره ددي په وړاندي دحل لپاره مونږ کومه بله لارنه درلوده مونږ دملت دژغورنې لپاره داکارکړي ، نه پدي کي کوم شخصي اغراض لرو اونه موږامتیازاتو لاس ته راوړل .

(٤)مخ

به نوشته روزنامه دي نیوز:

ائتلاف چند گروه مخالف دولت درحال شکل گیري است

به تعقیب وورود برخي رهبران افغان به قندهار ومذاکرات آنها باسران طالبان، گفته مي شود کـه ائتلاف چند گروه مخالف رئیس جمهور رباني در حال شکل گیري است .

روزنامه نیوز بانشراین خبرمي نویسد: هدف ازسفرسران این گروه هابه قندهار طرح استراتیژي مشترك به منظورتشکیل اداره آینده افغانستان مي باشد

ص(٤)

د" رفا" اسلامي گوندترکیې دبناروالیو په انتخاباتو کي بري ترلاسه کړ

نجم الدین "اربکان" له مسعود "یلماز" نه داستعفي غوښتنه وکړه

انقره - دغبرگولي ١٤ مه : د«رفاه» اسلامي گوند د ترکیې دصدراعظم نه داستعفاغوښتنه وکړه . دنړیوالوخبري منابعو پـه قـول ویل کیږي چې : دترکیې د«رفاه» اسلامي گوند یوه ورځ وروسته له هغې چې ددغه هیواددښاروالیوپه انتخاباتو کی ئي بري ترلاسه کړ دصدراعظم مسعود «یلماز» دحکومت خلاف دعدم اعتماد پیشنهاد وړاندي کړي دي .

(٤)مخ

معین وزارت خارجه ایران دیروز واردکابل شد

وي مذاکراتش را در مزارشریف رضایت بخش توصیف کرد

درآینده نزدیك کمیسیون مشترك همکاري هاي اقتصادي بین کابل وتهران تشکیل خواهد شد

کابل - ١٥ جوزا : علاوالدین بروجردي معاون آسیا واقیانوسیه وزارت خارجـه ایـران پس ازمذاکره باجنرال دوستم قبل ازظهر دیروز وارد کابل شـد وباانجیب الله لفرایي سرپرست وزارت خارجه دیداروگفتگوکرد.

طبق گزارش، بروجردي پس از ورود به کابل طي کنفرانس مطبوعاتي گفت : جمهوري اسلامي ایران دورجدیدتلاش

ص(٤)

براساس فیصله نامه سازمان جهاني حقوق بشر شهر کراچي

گروه هاي درگیر افغان از قتل عام مردم بپرهیزند

کراچي - ١٥ جوزا : سازمان جهـاني حقوق بشربخش کراچي درپاکستان طي فیصله نامـه ئي ازگروه هاي درگیر افغاني خواسته است تا ازقتل عام مردم بیدفاع بپرهیزند .

درگزارشي کـه برهمین ارتباط در روزنامه جنگ به نشر رسیده این سازمان ضمن اظهارتشویش از وضع حقوق بشر درافغانستان ازتمامي احزاب و گروه هاي افغان درگـیر درجنگ خواسته است که اختلافات شـان راازطرق مسالمت آمیز وازراه تفاهم ومذاکره حل وفصل نموده به حقوق حقه مردم شان احترام بگذارند .

همچنان این سازمان ازهمه گروه هاي افغان خواسته است تـا درجهت جلوگیري ازنقض حقوق بشر درافغانستان کمك کنند تاباشد که وضع حقوق بشر دراین کشور بحالت عادي بازگردد.

متقریب سفارتخانه هاي سودان وترکیه درکابل گشایش مي یابند

خرطوم - بالانعقاد پیمان اخـیر میان حزب اسلامي وجمعیت اسلامي ، روابـط و مناسبات دولـت کابل با کشورهاي اسلامي درحال بهبود وتوسعه است

مطابق گزارش هاي منابع خبري افغان به همین سلسله، هیئات بلندرتبه

ص(٤)

به منظور اشتراك درحمله بزرگ علیه کابل

دسته دیگرطالبان پاکستان را به قصد اشغال کابل ترك کرد

جمرود - ١٥ جوزا : دسته دیگري ازافراد جنگي طالبان جهت اشتراك درجنگ هاي اطراف کابل عازم افغانستان شد .

روزنامه نیوزمینگارد گروپ تازه دم افرادجنگي طالبان درراه هاي کوهستاني خیبرایجنسي دیده شده اند کـه روانه افغانستان بودند تادردرگیري هاي جاري

ص(٤)

له وروروحکمتیار سره دکتني په ترځ کي :

دنورستان دشوراغړو دحزب اسلامي دقیادت له اصولي دریځ څخه خپل ملاتړ اعلان کړ

جلال آباد - دغبرگولي ١٥ مه : دحزب اسلامي مجاهد امیر ورور حکمتیار دنورستان ولایت دجهادي شورا له غړوسره وکتل .

له جلال آباد ښارڅخه دپیام آزادي راډیو خبریال شهادت ته وویل دحزب اسلامي امیرورور حکمتیار ورمه ورځ په (١٢) بجو دتنګرهار دلومړي لمبر قول اردو په کلوپ کـي دنورستان ولایت دجهادي شورا له غړو سـره وکتل اودهیواد دروانو سیاسي او نظامي حالاتو په اړه ئي وروسره تفصیلي خبري وکړي .

منبع وویل پدي کتنه کي چې دوه ساعته ئي دوام وکړ لومړي دنورستان دجهادي شورا غړي دلاورخان «سهري» ورور حکمتیارته دشورا دغړو په نمایندګی

(٤)مخ

دجلال آباد دتیل پلورلو په ځودکانونوکي اورولگید

جلال آباد - دغبرگولي ١٥ مه : ورمه شپه دتورخم اوي ته نژدي دجلال آباد ښار دتیلو پلورلو په دوکانونو کي اورولگید .

له جلال آباد ښارڅخه دپیام آزادي راډیو خبریال شهادت تـه وویل چې تیره شپه په لسوبجو دتورخم اوي ته څېرمه دجلال آباد ښـار دتیلو پلورلو په څو دوکانونو کي اور ولگید اوتیل پلورونکو ته ئي درانده مالي تاوانونه ورواوښتل .

منبع وویل پسدي پیښه کي چې اته دسرتاوان ندي رسیدلي مګرځو پلورنځي سوځیدلي اوتیلولوګی اولمبو دښارځینې برخې تهدیدولې ...

مذاکرات میان طالبان ورهبران سه گروه جهادی، امروز در قندهار آغازمی گردد

جنرال دوستم به این مذاکرات دعوت شده است

ماشخصیت هاي خوب را غرض مذاکراه به قندهار دعوت کرده ایم

(امیرخان متقی)

قندهار - ١٥ جوزا : قرار است امروز مذاکرات میان گروه طالبان ورهبران سه تنظیم جهادي یعني مولوي محمدنبي ومحمدي»، مولوي محمدیونس «خالص » وپیر سید احمد گیلاني درقندهار آغازگردد .

مولوي امیرخان متقي رئیس اطلاعات واموراتحنگي طالبان درقندهار درگفتگو با « بي بي سي » دراین مورد

ص(٤)

داکوره ختك په راپورتاژکي " بي ، بي ، سي " د ژورنالیزم مروج اصول اومعیارونه تر پښو لاندي کړي وو

دمرکه کوونکو لهجي اواصطلاحاتو په سلو کي سل سوده چي پاکستانیان دي

پیښور - دجوزا ١٤ مه : څوورځې مخکي چې د« بي بي سي » راډیو پښتوسرویس لـه اکوړي ختك څخه دخپل خبریال جوړکړي راپورتاژ نشرکړ، ددغه نړیوالي راډیویي دستګاه

(٤)مخ

اپکاش کودتاهای ٢٦ سرطان و هفت ثور افغانستان نیز اینگونه سرکوب میشد؛

داکه -بنگلدیش : سه شنبه : ١٣٧٥/٣/١ : یك عسکر بنگله دیشي اخبار مربوط به سرکوبی کودتای دگرجنرال ابو صالح محمد نسیم قوماندان قوای زمیني اردوی بنگلدیش را مطالعه میکند.

مذاکرات میان روس ها وآزادیخواهان چیچن مجدداً آغازیافت

طرفین یکدیگر را به نقض آتش بس متهم کرده اند

مسکو - ١٥ جوزا : مذاکرات میـان روس ها ومبارزین آزادیخواه چیچن بخاطر تحکیم آتش بس که قـبلاً میـان طرفین روي آن توافق شده بود ،مجدداً آغازشد .

طبق گزارش خبرگزاري « ایتارتاس » روسیه دراین مذاکرات هیئت هـاي بلند پایه ئي از هردو طرف درانگوشیا کشور همسایه چیچـن حضوربهم رسانده اند وگفته مي شود آنچه که این مذاکرات رانسبت به مذاکرات قـبلي دشوارترمي سازد ، تعیین سرنوشت آینده چیچن میباشد .

مولادي اودوگـوف وزیـر اطلاعات

ص(٤)

دولت در رابطه به کنترول نرخ مواد اولیه ، اقداماتي را روی دست گرفته است

کابل - ١٥ جوزا : عبدالعزیزمراد سخنگوي دولت در کابل اظهارداشته است که دولت براي کنترول افزایش نـرخ مواد اولیه بـه ضرورت مردم یك سلسله اقداماتي را روي دست گرفته است که بتاسي ازآن طی چند روزآینده مقدار (٨٤) تن گندم به مامورین وفقراي شهرتوزیع خواهدشد .

نامبرده درادامه گفته است که درسال جاري حدود مبلـغ (١٠) ملیون دالر

ص(٤)

علاءالدین بروجردی باجنرال دوستم دیدار وگفتگو کرد

مزارشریف - ١٥ جوزا : علاوالدین بروجـردي معـاون آسیا واقیانوسیه وزارت خـارجـه ایـران روز دوشنبه گذشته باجنرال عبدالرشیددوستم رهبر جنبـش ملي در شهرمزارشریف دیداروگفتگو کرد .

طبق گزارش منابع خبري ایران آقاي بروجردي دراین دیدار ضمن تشریح سیاست هاي ایران درقبال برقراري صلح درافغانستان مراتـب خرسندي ایران را ازتوافقات صورت گرفته درصحنه سیاسي افغانستان ابرازداشت .

وي تاکید کـرد کـه همه جناح هاي سیاسي درافغانسـتان اصـل مفاهمه و مذاکره را جهـت حـل بحران جاري درافغانسـتان انتخاب کـنند . همچنان موصوف آمادگي جمهوري اسلامي ایران

ص(٤)

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

شهادت

بیانگرعقاید وآرمانهای حزب اسلامی افغانستان

صاحب امتیاز: حزب اسلامی افغانستان

موسس : انجنیرحکمتیار

ناشر : ریاست ارشادوفرهنگ

سرمحرر : محمد نذیر «بشارت» .

تحت نظر هیئت تحریر

تیلفون : ۲٥٦۳۷۸۹

آدرس پستی : ۱۰۳٦ یونیورستی تاون - پشاور

دیوه دردمندانه کردار اولوړظرفیت مظاهره

دحزب امیر ورور « حکمتیار » دوومي شپي په مرکه کي وویل چي « دکندهارغونډه بوعقده مندانه حرکت اوعکس العمل دي نوي ابتکارنه دي، په دي اقدام دافغانستان ستونزه نه اواریږي . گمان نه کوم چي څه نتیجه وړباندي مرتبه شي ، نه دامشران دهغوي (طالبانو) له امیرالمومنین سره بیعت کوي اونه هم هغه له خپل امارت نه استعفي ته چمتودي .

دحزب دامیر دا نظر په واقعیت ولاړدي. طالبانو هغه وخت مجددي صاحب ، مولوي محمدیونس خالص صاحب، پیرگیلاني صاحب اومولوي محمدنبي محمدي صاحب ته کندهارته دتلوبلنه ورکړه چي دحزب اوجمعیت ترمنځ په ماهیپرکي تړون لاسلیك شو .

پداسي حال کي چي دطالبانو دتبارز اوپه یوه قوت باندي ئي دبدلیدو تریوه نیم کال زیاته موده وشوه په دي ټوله موده کي هغوي جهادي مشرانوته دټولو حزبونو له انحلال اوتسلیمدوپرته بله خبره نه درلودله . نه ئي تنظیمونه په رسمیت پیژندل اونه ئي دتنظیمونو مشرانوته دسیاسي زعامتونو اعتبارورکاوه . داچي یوناڅاپه دطالبانو په موضع کي داسي بدلون راځي چي خپل عنوان کړي شعارونه شاته وغورځوي ، په خپلوسیاسي اصولو پښې کیږدي اوکه ووایو چي ددوي په خپل گومان اصلاً دخپل سیاسي اونظامي وجوداساسي فلسفه چې داحزابو دتعدد ختمول اوانحلال دي هیره کړي اویودم بي له دي چي دسیاسي روش دبدلون لپاره ئي بله مقدمه اوتوروعوامل ترسترگوشي ، دارنگه یوانعطاف وکړي چي دځوتنظیمونو مشران دمذاکراتو لپاره وروغواړي نوله دي پرته چي وویل شي دا اصلاً دحزب اوجمعیت دتړون په وړاندي یوعکس العمل اوځوابي اوانفعالي حرکت دي بل څه کیداي شي؟

دحزب دامیر ددي تحلیل اونظرمطلب دادي چي دکندهار دغونډي اوملاکراتو اقدام یوعکس العملي حرکت دي، اوپه عکس العملونو باندي زموږ دهیواد مشکل نه یواځي حل کیداي نشي ،بلکي لاتي پیچلي کوي، لانوري غوټي وراچوي ، لاتفرقونه اودښمني راولاړوي او لادمقابلو په ویشوکښ دگروپونه تړدوي .

خود ورور « حکمتیار » دخبري مطلب په هیڅ توگه دانه دي چي گني هغه دهیواد دنورو تنظیمونو ترمنځ دتفاهم او ائتلاف دجریان په وړاندي حساسیت لري او دشك په سترگه ورته گوري .

دحزب قیادت په واروار داویلي چي څومره ممکن وي داحزابو تعدد راکم شي، یومعقول ،موثر اوقوي پولورایزیشن رامنځ ته شي همدومره داسلام اوملت په خیرده .

خوچي داکاردتوطیې ، سازش ،جبر، انحصار او فشارپه وجه نه بلکي دمنطق، معقولیت ، تفاهم اوقناعت پربنیادوي دکندهار غونډه متاسفانه په ښه روحیه نه ده شروع شوي، خوددي معني دانه ده چي که دغونډي برخوال وغواړي چي دلسوزانه فکروکړي، دردمندانه دریځ ونیسي اوواقعاً داسلام دآبرو دخوندي کولو اوخپل مظلوم قوم دژغورني په روحیه دطرحي دوړاندي کولو اوعمل کولو تصمیم ونیسي، نودخیراومعقولیت پیغام دي ونه لرلاي شي .

طالبانو باید له خپلي تجربي نه دازده کړي واي چي په سیاسي ژوند کي دمطلق حاکمیت په غوښتلي دسلیقو اواحساساتو دواکمنولو شوق ډیره بده سادگي ده ، سیاسي پېښي اوانکشافات دچادهوسونو تابع نشي کیداي، ضد او ضدبازي، اوسرتمبگي دسیاست ترټولو ناوړه اشتباه ده ، په دي روحیه اوسیدل چي دادي دومره اوهومره قوت لرم ، ددومره اوهومره دبدیې اوزور خاوندیم ، څوك به مي ویښته هم ونه شوروالاي شي، اوهرڅه مي چي دمزاج اوسلیقي مخالف وي ردوم به ئي، څوك دي اوکوم قوت دي چي رابانديي به ئي ومني، ډیره تباه کوونکي سیاسي ناروغي ده ، داټول هغه شیان دي چي طالبانو باید په تیر یوه کال کي ښه زده کړي واي اوهغوي باید په دي پوهیدلي واي چي هغه څه چي سیاسي، دوي مجبوراً کړي که تن ئي په خپل انتخاب وکړي ، گټه ئي ورته ډیره زیاته ده . دوي اوس هم کولای شي دکندهار غونډي ته بله بڼه ورکړي ، دعقدي، عکس العمل اوانگیزي اوروحي دمحکومیت له کړکۍ ئي ازاده کړي اوداسي شکل اولوري ورکړي چي په تفاهم اعتقاد اودملت دغوښتني په باب دمسئولیت اوزړه سوي احساس ورڅخه معلوم شي .

که داکارکړي اوله ټولو سره په معقولیت او صمیمیت وبالوك ته راوړاندي شي، دوطن اوقوم دژغورني ولوله اونیت دخپل روش بنیاد کړي ، نوواقعیت داده چي لوی گام به ئي پورته کړي وي اوښت بري به ئي په نصیب شوي وي . نن زموږ هیواد دیوه داډول دردمندانه کردار اولوړظرفیت مظاهري ته اړتیالري ، اوداډوره مهم عنصر دي چي هرڅوك دغه ددرلودلو ثبوت ورکړي او ندي گرای شي ، واقعاً ئي میدان گټلي دي .

نگاهی دیگر به معاهده، ماهیپر

تذکرمترجم

معاهده، ماهیپرمنعقده، عصر روز جمعه ۱۳۷٥/۳/٤هـ .ش مطابق ۱۹۹٦/٥/۲٤میلادی ، قطعاً نقطه، عظیمی در تحولات ومعادلات کشورما ونیزمنطقه خواهدبود. آنچه تا حال از مطبوعات و از اظهارات مقامات رسمی پاکستان مستفادگردیده اینست که این تحول علاوه براینکه برای آنان ناگوار بوده، حیرت آور نیز بوده است .

آگاهی از دیدگاه هایي که مقامات ومطبوعات پاکستانی از تحولات کشور مادارند ، نه تنها برا ی عامه، خوانندگان «شهادت»، بلکه برای گردانندگان امورکشور ما نیزضروری به نظر میرسد. بدین ملحوظ ،روزنامه شهادت ازمدتی، باینسو مبادرت به ترجمه و ارائه، این دیدگاهها پرداخته است .

ذیلاً ترجمه، دری سرمقاله، روزنامه، نیوزانترنیشنل تقدیم میگردد که بروز یکشنبه ۱۹۹٦/٥/۲٦میلادی (۱۳۷٥/۳/٦هـ .ش) به معاهده، ماهیپر واثرات آن اختصاص یافته است .

حامد

افغانستان شاهد انعقاد چند دهمین معاهده بین کسانی بود که شدید ترین دشمنی را نسبت به همدیگر داشتند. هدف عمده از انعقاد این پیمان مواجهه، متحدانه با آخرین دشمنی است که در برابرآنان قرار گرفته است. در ترکیب جدید قدرت، پریزدنت ربانی که موفقانه مانع یورش توأم با قتل عام و خونریزی طالبان برکابل گردید، انجنیرحکمت یار را درکنــارخــود دارد کــه تــوسـط طــالــبــانــي از مــراضــع مستحکمش درمیدانشهر ومقرش واقع چهارآسیاب اخراج گردید. لذا،این موافقتنامه را بیشترباید پیوند مصالح خواند تا اینکه آنرا معاهده ای بپنداریم که هدف از انعقاد آن اعاده، صلح و امید به افغانستان است .

براساس مواد مهم اینق پکت یا پیمان، حزب اسلامی افغانستان مناصب صدارت عظمی و وزارتخانه های دفاع ومالیه را بدست خواهد آورد. درحالیکه پریزدنت ربانی کماکان پوست ریاست دولت را بعهده خواهد داشت.این بخش از مفاد معاهده، کم و بیش همان چیزی است که در اداره، قبلی ایکه براساس معاهده، اسلام آباد ، تشکیل گردیده بود، وجود داشت . براساس معاهده، اسلام آباد مدت ریاست استاد ربانی تمدید گردیده و حکمت یار به پوست صدارت عظمی منصوب گردید. درنتیجه اختلافاتی که بین این دو رهبر پدید آمد، معاهده کان لم یکن گردیده و درنتیجه آتش جنگ داخلی درگرفت.

ظهور طالبان و پیروزیهای دراماتیك آنان ، نیروهای محرکه، معادله، قدرت را واژگون گردانیده وباعث گردید تا ملیشیای طالبان بعنوان یك نیروی معتنابه درعرصه، افغانستان عرض اندام کند.

با درنظرداشت تهدات باریکی که معاهده، ماهیپر برآن اعمار گردیده است، به یقین نمیتوان گفت که آیا این معاهده بقایی داشته و به یك میکانیزم مثبتی برای صلح مبدل خواهد شد و یا اینکه به محض دستیابی به اهداف قبلاً معین یعنی شکست طالبان، ازهم فروخواهد پاشید. در افغانستان راهی که به صلح وامنیت وصل میگردد، پراز زباله های باقیمانده از معاهده هایی است که هـ، با اهداف نجیبانه منعقد گردیده ولی پس از مدتی، در اثر رقابتهای ذات البینی رهبران ازهم پاشیده اند .

اما، رویهمرفته این معاهده برمعضله ، افغانستان اثراتی برجا خواهد گذارد .زیرا درنتیجه، ورود قوای حکمت یار به عرصه، نبرد، طالبان اینك با دشمنی بمراتب قویترمواجه خواهند بود. احتمال میرود که بعضی ازمتحدین رهبر حزب، همچون حزب وحدت اسلامی افغانستان نیز به منظور ایجاد جبهه ای مشترك علیه طالبان،به اداره کابل بپیوندند. در رابطه با معادله، جدید قدرت، نظردیگری نیز موجود است و آن اینکه طالبان علی الرغم برخورداری ازیك نیروي قابل ملاحظه، فاقد نیروی جنگی مجرب و آموزشدیده هستند .

درحالیکه اتحادیه، جدید (حزب ودولت) بصورت آشکار دارای نیروهایي هست که خوب آموزشدیده ونیز جنگ آزموده هستند . فاکتور وعامل دیگری که حائز اهمیت است میزان حمایت مستمری است که پس از انعقاد پکت فوق الذکر، ازطالبان بعمل خواهد آمد.

توافقنامه، حزب ودولت ازحمایت قابل توجه خارجی برخور دارنیست وعجیب اینکه یك دوست نزدیك پاکستان یعنی ایران از توافقنامه، فوق پشتیبانی میکند. عکس العمل اسلام آباد تا هنوزمبهم است. اما، باتوجه به مخالفت شدیدی که درگذشته دربرابرربانی وجود داشته است،مشکل است که بتوان انتظارداشت اسلام آباداین موافقتنامه را مثبت و قابل تمجید ارزیابی کند.

علاوه، طالبان قسماً ازحمایت ضـمـنـی ومخـفـی پـاکستان برخوردارهستند. لذا، هرنوع احتمال ازمیان برداشته شدن آنان از عرصه، نبرد . از دیدگاه اسلام آباد یك شکست وخیم تلفی خواهد گردید.

به همین دلیل است که میتوان گفت سناریوی آینده، افغانستان بگونه ای ترتیب گردیده که شاهد خونریزی بیشتر وفرصتهای کاهشیافته، مصالحه باشد. زیرا مفیدیت اصلی و پنهانی این معاهده، درقدم اول تقویت خطوط نبرد بود، و استقرارصلح، یك موضوع فرعی بشمار میرود .

خارج

میوند

دننگرهار شورا دخپل یوه وروستي اقدام لـه امله دفـوق العـاده جـرأت اودیپلوماسي څرگندونه وکړه ،دغه اقدام پـه ننـگرهارکي دایران داسـلامـي جمهوریت دقونسلگري پرانیستل دي چي معلومه نه ده دااستاد رباني دبهرنیو چاروووزارت به پدي اره څـه خـوب هم لیدلي وي او کـه نه خوکوم خوب چي موږ تولوپه ویښه ولید هغه جلال آباد تـه دښاغـلي بـرجـردي پـروخـت دمیلمسـتیاوو اوسیاسي ، تجارتي بتهارونواومعاملوډسمندر لـه تل نـه دهغـوملغلرورااېستل وو چي دایران دقونسلگري دپرانیستلوتصویرونه پکي ځلیدل.

ســري نـه پـوهیـږي چي ایـران پـه ننگرهارکي دخپـلي قـونسـلگري پرانیسـتل کیدوته څـه ارتیا درلودله اوځنگـه پـه اوسني وخت کي دغـه ضرورت اوارتیا رامخي ته شوه ؟حاجي صاحب عبدالقدیردایران داضرورت یا مجبوریت داوړ توجه کړ چي داکار دافغانانو په گټه دي ، په ایران کي گڼ شمیرمهاجر اوسیږي اودتلوراتلوپاهم هلتـه داوسیـدو پـه اړه سـتونـزي لري اودجلال آباد دقونسلگري له لاري به دغه مشکلات حل شي.

پوهنتنه داده چي حاجي صاحب به هم دایران پـه کـوم ښـارکي قـونسـلگري یاخپله سیـاسي نمایندگي پرانیزي که ځنگـه ؟سیـاسـت ،دیپلـومـاسـي اوپروتوکول خوددي ایجاب کوي،ځکه تهـران لـه کـابـل سـره نـه بلـکي لـه ننگرهارسره دغه توافق ته رسیدلي له همدي ځایه داهم ضروري ده چي دننگرهار هیواد ! هم په تهران کي خپله سیاسي نمایندگي پرانیزي ، وایي چي په پیښورکي هم دننگرهار شورا د نمایندگي په نوم کومه حویلي شته خومعلومه نه ده چي پیښوریه دیپلوماتیك حیثیت ورته قایل دي اوکه ځنگه؟

دښاغلي بروجردي چي کوم ځاي ته پښه رسیدلي وکه منگول تري ستون شوي دي، ننگرهارته دده سفـرهم ددکي منگولي سفرؤ ،خداي «ج» دي ځوك له کومي دروازي بینوا نه رأستنوي ،اصلاً ځواني اوځواغردي هم داده چي دچا خولي تشه پرینږدي ،پښتانه خو هسي هم دمیلمه پالني په باتو ځانوته له گرنگونو غورځوي اوس نو بیا دښاغلي بروجردي غوندي یوه معزز اومحترم میلمه دغه یو، وړوکي اوادني غوښتنه به څنگه نشي پوره کولاي .

آخر پاکستان چي په هرات کي خپله

حال دویلو لایق نه دی

قونسلگري پرانیزي اودایران خولي ته ځان نیغ نیغ کوي تهران به یي په ننگرهارکي دپاکستان په غوږ کي کومه سندره نه زمزمه کوي.

دادننگرهاردچارواکو دبیطرفي یوبل ثبوت دي ،یوداسي ثبوت چي هیڅوك تري سترگي نشي پټولاي ، دکابل دجگړوابربادیوپه اړه هم بي طرفـه ؤ داددوي دکورني سیاست دبیطرفي ثبوت ؤ.

اوس دخپلي بهرني بیطرفي ریکارډ هم ټینگول غواړي اوهغه دایران اوپاکستان ترمنځ بیطرفي ده ،دلته چي اسلام آباد خپله سیاسي نمایندگي ساتلي شي نو تهران ولي تري بي برخي وي ،آخـر تبعیض ښه نه دي نه یوازي چي ښه نه دي بلکي ناروا دي .

فرض کـړه کـه جلال آباد پـه تهران کي دســیـاسـي نمـایـنـدگـي ،ســفــارت اوقونسلگري دپرانیستلوضرورت نه وینې په اصطلاح دتهران په شمال کي ،حیات آباد اووزیر اکبرخان مینه کي دعالیشانه قصروتوله لرلوخوبي فکره اوبي غمه نه دي. په حقیقت کي همدا قصرونـه دجلال آباد سیاسي نمایندگي دي ،نادرخان چي دپیښوریه قصـه خواني کي افغان بلډنگ اخیستي دایي

دچا لپاره اخیسـتي؟ دوي هم چي له ایران نه په ننگرهارکي دقونسلگري په بدل کي په تهران کي دیوه یوه قصر احکام اوامتیازات ترلاسه کړي داگني داړول نشي تعبیر کیدي که څوك یي داړول نه تعبیروي هغوي به دتحلیل په کمزوري اودسوء تعبیر په رنځ اخته وي، ښايي چي خپل علاج وکړي، خوښه بي چي هومیوپتیك یاجرمني علاج کوي که انگریزي علاج اویا هم یوناني .

زموږ مشران لکه څنگه چي په کورني سیاست کی بی سیاله دی همداسی په بهرنی سیـاسـت کـی هم د شیطان غـوږونـه دي کـاڼـه وي د دیپلـومـاسـي اوسیاست معراج ته ختلی دی .

پخوا به حکومتوپه دیپلوماتانو لومړی د حقوقـو پوهنځی لوست بیا به بی بهرنـه د زده کـړو لـپاره لیـږل لـه دی وروسـتـه بـه بی دری کـاله پـه خارجه وزارت کی ترینگ کول لدی سره بی هم لـه جـهـان خـارج سـره داسی موفقـانـه اړیکی نشـوای ټینگولای خو څومره چي نن زمـوږ اړیـکی لـه خـارجیـانـو سـره ټینگی اوصمیمانه دی بل هیڅ وخت نه وی ، اوس خارج لـه موږ نه ډیر خوشاله او راضی دی ،خیر که په داخل کی ملت څه واړه واړه شکایتونه او گیلی ولری مـهـم خـارج دی او چي خـارج وی هر کارکیدی شی دواړه کاره نه کیږی دوی هندوانی په یوه لاس کی نه نیول کیږی ځکه خو خارج او داخل دواړه خوشاله او راضی نشی ساتل کیدای . په رښتیاهم چي دوی هندوانی پـه یوه لاس کی نه نیول کیږی .

هغه مجنونه به لیلاغونـدی رسـوا شـی
چی رحمان غرندی مجنون یی په دیاروی

داسلامی اوانسانی قانون بنسټیز توپیر

داسلامی قانون تدوین

امین احسن اصلاحی

ژباړه : نقاش

دوهمه برخه
دغه دواړه قوانین داصولو په تله کی

دلته پدي خبره بحث نه کوو چي دانساني تاریخ دارتقاً کوم قانون چي بیان کړي شوهغه به دتنقید پراصولو پوره ختلي وي اوکه نه ؟

فرض کړه دابالکل سمه ده اوددغه فرضي سموالي له امله غواړو دلته داسلامي اوانساني قانون یوه اصولي موازنه وکړو . لدغي موازني چي کوم حقایق لاس ته راځي هغه به ستاسي مخي ته کیږدو .

زمایه وړاندي ددغو دواړو په ارتقاء ، چي څوك یوسطحي نظرهم واچوي هغه پرلاندنیوحقیقتونو له اعتراف څخه پرته بله لاره نلري .

۱ - دانساني قانون دقانونیت ټول انحصار اوقرار پدي خبره دي چي دي ته به دقبیلي یادکورني دمشرتابه او منظوري حاصله وي اويا به هم کومي محکمي یا حکومت هغه منلي وي او که لدي خبرو څخه هغه هم بي برخي ؤ نوبیا طبیعي ده چي دهغه قانونیت له منځه ځي .

خودوي پرخلاف داسلامي قانون قانونیت لدي څخه په یوه پوري هم اړه نلري ، هغه په هرحال کي قانون دي که کومه محکمه یي مني اوکه نه ، کوم حکومت یي تائیدوي اوکه نه ! هغه ددغو کائناتو دحقیقي مالك او خاوند قانون دي .

که کوم محکمه یا حکومت دانه تائیدوي نولدي څخه ددغـه قانون قانونیت نه اغیزمن کیږي بلکي داقانون پخپله هماغه عدالت اوحکومت مجرم گڼي لکه چي قرآنکریم پدي هکله فرمایلي دي : «ومن لم یحکم بما انزل الله فاولئك هم الفسقون »
(المائده - ٥ - ٤۷)

اوهغه څوك چي دالله تعالی دنازل کړي قانون له مخي پریکړي نه کوي هغوي فاسقان (سرغړونکي) دي .

دغه حقیقت له هغوځونو څخه هم څرگندیږي چي اسلام دخپل آرائینو لپاره غوره کړیدي، داسلامي قانون لپاره چي کوم الفاظ استعمال شوي دي هغوي څخه یوهم کتاب دي چي دهغه معناده : ماکتبه والله لنا هغه چي الله تعالي زموږ لپاره لیکلي دي ، دوهم لفظ سنت دي چي دهغه معناده ،باسته النبي صلي الله علیه وسلم : هغه چي نبي صلي الله علیه وسلم زموږ لپاره مقررکړیدي . دریم مشهور لفظ شریعت دي چي معنايي ده «ماشرعه الله لنا» هغه چي الله تعالي موږ لپاره ټاکلي، دغـه ورله نورو الفاظو څخه هم دغه حقیقت څرگندیږي .

۲ - انساني قانون لـه ځان سره داحترام اوتقـدس هیڅ اړخ نلري هغه دانسان دایمان جزنشي کیدلی دهغي په اړه دانسان داتصورنشي کیدي هغه چاچي ده ته داقانون وضع کړي دهغي منل یاسرغړول هم لیدلي شي دهغي په هکله دغه عقیده هم نلري چي ددغه قانون له اطاعت څخه جنت اوله سرغړولو څخه بي انسان دوزخ دعذاب مستحق گرځي .

بیاهم ددي پرخلاف اسلامي قانون ، دالهي قانون په عنوان دبرزیات مقدس اومحترم گڼل کیږي . هغه دهرمسلمان دایمان بنسټ گڼلي شي دانساني قوتونو اواصلاحیتونو روزنه داسي نوم اوکامل نشي گرځیدلي ددغه قانون دنافذوونکي په اړه دهرمسلمان داعقیده ده چي هغه دزړو دننه له ټولو پټونیتونو اورازونو څخه هم خبردي .

دهغه ښکاره سرغړونه خوپه ځاي پریږده کـه دزړونو په کوم کونج کي له هغه څخه دسرغړوني کومه وسوسه هم پیداشي لـه هغه څخه نشي پټیدلي لدي پرتـه ددغـه قانون پـه اړه دهرمسلمان داعقیده وي چي دالله تعالي رضا ددغه قانون له منلو پرته نشي حاصلیدلي، پدي کي دنته ددنیا نیکمرغي هم شته او د اخـرت فلاح اوخلاصون هم .

۳ - دانسـاني قانون اصلي رول دانساني ژوند دننه یواځي منفي بڼه لري ددغـه قـانون : ماهرینو اوجوړوونکو ددنیا لـه مخي : انساني قانون هدف اومدعا داده چي یوبل له ظلم اوتیري څخه دخلکو مخه ونیول شي. که په انسان کي دغه خرابي اوناوړتیا نه وي نودغه قانون ته بیا لـه سره هیڅ ضرورت نه پاتي کیږي. ددي پرخلاف اسلامي قانون خپل ضرورت یواځي دظلم اوتیري مخنیوي ندي بیولي بلکي اسلامي قانون خپل اصلي هدف اومرام دانسان هدایت او لارښوونه بللي

٥ - داسلامي قانون هدف دادي چي انسان خپل ژوند که فطرت سره [illegible] قانون یواځي لکه مرجعه [illegible] اودغاتو مشتمل ندي بلکي لدي سره دطهارت اوعبادت یوه ضابطه هم ده ، داخلاقي روزني او تزکیـه نفس قواعد اواحکام هــم ورسره دي اودټولنیز اواجتماعي تهـذیـب او اصلاح اصـول اومقررات هم .

په انساني قانون کي که داخیزونه وي هم نوهغه بي دوهمه بڼه اوداصلي مزاج څخه بي لیري دي خوپه اسلامي قانون کي دغه ټول څیزونه دهغه دخپل مزاج دغوښتني له مخي گڼشویدي دژوند دحالاتوپه اصلاح اوتهذیب کي دمنفي رول په ځـاي داسلامي قانون رول مثبت دي ځـکه خوپو اسلامي حکومت دبـل ډول حکومت په پرتله ډیرزیات مسئولیتونه په غاړه لري، دلته به دعوامو اوولس دژوند پـه هغو اړخونو هم نظراچول کیږي چي دنني وخت دحکومتونو له ځارني بیخي بیلي گڼل کیږي اوهمداداسلامي حکومت پراختیا او هراړخیز (هـمـه گیر) حیثیت دي .

٤ - دانساني قانون اساس لکه چي څرگنده ده په رسم اورواج عاداتو اوعنعناتو اېښودل شوي، دکورنیو اوقبیلو دخپلو خپلو عاداتو څخه درسم اورواج به غوره کړي هغه دضرورت په وخت کي دیوه قانون درجه اوحیثیت ترلاسه کړي چي هغو دخپلو علمي اوفلسفي نظریاتو لپاره امتیاز اوگڼون سره دوخت په تیریدو پرمختگ [illegible] دي لومړني مواد اوگړي [illegible] درسم اورواج او قومي تعصباتو تولي تنگ نظري ملي او گڼي دي .

نوربیا

جوانا! ره طاعت امروزگیر

آستانه

خــوش باش دمـی کــه زنـدگانی اینست

اگرارادهء کارنیکی را دارید باتوکل به خدا اقدام کنید شب و روز رنج و راحت ، ناخوشی و سرور ناتوانی و توانایی را یکسان تلقی کنید وبرای انجام کارتان نا امیدی هــا را کنار گذارده با روحیات قوی وقلب لبریز از امید به پیش بروید و کوشش کنید کسانی را که با نا امیدی ومایوسی دست و گریبان اند همرای خویش ببرید ، در هنگام مصایب وتکالیف آنها را یاری دهید و روحـیهء پست شده شانرا تقویه نموده از مـرده دلی و ضعف قلب بیرون شان کنید، زیرا آنهائیکه روحیه خود را از دست داده دربرابرشکنجه روزگار خمیده انــد ، یارای انجام هیچ کاری را ندارند ، قبل از آنکه مرگ بر آنها وارد شود ، مرده اند .

برای آنهائیکه از زنـدگی خویش شکایت دارند و راه پیشرفت را گم کرده اند ، طریق فراموشی را بیاموزید تا آنها همه ناهمواری هائیکه در مـسـیر زندگی شان آمده فراموش کنند و بجانب قلهء حیات چشم بدوزند، به آنها تفهیم کنید : غیرقابل قبول است که گاهی زندگی به رخ کسی نه خندیده باشد،وقتی میتوانید بامأیوسی و ناامیدی غالب آئید که بجای یاد آوری رنج ها و پستی های زندگی، خوشی ها و بلندی حیات خود و یـا اجداد تان را بیاد آورید و یا اینکه در مـسیر حیات به آن سعادتمندان ، که احساس می کنید واقعاً خوشبخت وسعادتمند اند به رقابت احسن بپردازید ولی این رقابت شیوهء دشمنانه و کینه توزانه نداشته باشد یعنی به ایشان غبطه بورزید و ازحسد بپرهیزید زیرا غبطه شمارا سرفرازی داده وحسد علاوه برگناه سستی و پستی ایجاد می کند . پس کوشش نمائید از پستی ها بـه سوی بلندی ها رهسپار شوید،وقتی به سطوح بالا دست نیافتید هم رده ها خویش را در نظر بیاورید وهمیشه خوش باشید و بدانید که ازشما کرده ضعیفتر ها هم اند .

دُرنامه

*- بزرگترین نیکی عزت دوستان وهم صحبتان است .

*- دنیا مزرعه آخرت است ، هرچه در اینجا بکاری در آنجا میدروی .

*- هرکی خشم خود را بخورد و صبر پیشه کند خدا قلب او را از ایمان و اطمینان لبریز می کند.

*- شهادت دورغ گناهی عظیم است که انسان را به سرحد کفرمی رساند .

*- یکی ازنشانی های مومن اینست که اگر کارنیکی را انجام دهد خشنود می گردد و اگر خدای ناخواسته کار بدی از او سرزند غمگین می شود .

*-خداکس را دوست میدارد که بر دیگران مهربان ، نیك خواه و بخشنده باشد و به آنها وسعت کار بخواهد .

*- باوالدین ، اقارب ، مساکین و مسافران پیش آمد نیك داشته باشید.

*- کسانیکه کوتاهی های خود را میپوشانند کامیاب نمی شوند ، آنهائیکه به گناهان خود اقرار نموده و انابت می نمایند مشمول رحمت حق می گردند .

*- عزت دردانایی و تقوا است .

*- بهترین نیکي تعلیم است .

*- علم بهترین حربه است .

*- درهر چیز خراج ومالیه است ، خراج ومالیه علم تعلیم وترویج آنست .

*- جنگ را قبل از التهابش ترك کنید .

*- سخن شیرین خشم را زایل می کند .

*- داناکسیست که خشمش به دیری آید .

*- پیغامی را بدست نادان فرستادن ، برابربه خود کشی است .

*- اشرار از راستکاران و بدها از نیکان اطاعت نمی کنند .

*- ازقسم ناحق بپرهیزید و دیگران را هم به قسم ناحق و امدارید . زیرا درهر دوصورت گنهکار می شوید .

*- ایمان و توکل به خدا عامل صحت است.

*-نفس راکنترول کنید ورنه به شقاوت گرفتار خواهید شد .

*- اگر علم و اعمال صالحه میخواهید بدور بدیها و بدگویی ها مگردید .

*- او هرگز قانع نمی شود که علاوه بر رفع حاجات ، طالب بیشتر چیز ها باشد .

*- اگر در این دنیا دوچیز داشته باشید خوشبخت خواهید بود وآن عبارت ازسخن دلپذیر و دل سخن پذیر ست .

□- ازمداومت در کار هاي خیر اموردیل منشعب میگردد : ترك زشتي ، دوري ازسهکـري ،دوري ازگناه ،قوام یقین ، آزادي،طاعت رحمان،دوري ازشیطان ، داد گري واجابت گفتار حق .

دانش تجربی

بایك آزمایش می توان بیماری نفس تنگی راتشخیص داد

دوکتوران با به کارگیري یك روش جدید موفق شده اند پیش از بروز بیماری نفس تنگی درمیان افرادیکه آمادگی مبتلا شدن را دارند آنرا تشخیص دهند .
بر اساس یك گزارش تحقیقی که درومجله تحقیقات طبی» به چاپ رسیده آزمایش برروی تعدادی ازبیماران مبتلا به نفس تنگی و افراد سالم با یك ماده،کیمیایی به نام میتاکولین ،نشان داد که این ماده سبب انقباض ماهیچه های شش و ایجاد وضعیتی شبیه نفس تنگی می شود .
براساس نتایج این تحقیقات افراد سالم پس ازتنفس این ماده ، کیمیایی بانفس های عمیق می توانند به حال عادی بازگردند ، درحالیکه بیماران مبتلابه نفس تنگی چنین نیستند .
محققان هنوزنمیدانند چرا افراد مبتلابه نفس تنگی درتنفس دچارمشکل هستند، اما نتایج بدست آمده می تواند آنها را درتشخیص افرادیکه آمادگی ابتلا به نفس تنگی دارند ، کمك کند .

فرضیه، کاهش کلسترول

آیا درست است که می گویند با از کار افتادن نوعی ژن در سلولهای مغز ، نظم کلسترول بدن ازمیان می رود و سطح کلسترول «بد» بالا می آید ؟
این موضوع هنوزیك فرضیه، است، راه طولانی تا اثباتش باقی است . صاحبان همین فرضیه معتقدند که باتعویض قسمتی ازمغز استخوان هم می توان کلسترول را کنترول کرد، فعلاً بهترین راه تنظیم سطح کلسترول خون خود داری از خوردن غذاهای کلسترول زاست .

ضرورت به پروتین

زنان باردار به پروتین بیشترنیاز دارند .جنین درهفته ها وماههاً اول ، برای رشد خود به مقدار کافی پروتین نیاز دارد که مادر باید آنرا به اوبرساند و گرنه ، پس ازتولد وزنی کمترخواهد داشت ورنجور خواهد بود ، مادر این پروتین را از راه غذا به جنین می رساند.

نوجوانان

مشعل راه

حساسیت های دوره نوجوانی فرزندان رابایید درك کرد

پسران و دختران نوجوان که سن آنها تقریباً بین دوازده تاهجده سال است به طور طبیعی حالات و رفتار وخواسته ها و ارزشهای کاملاً متفاوتی با بچه های کم سن وسالتر ازخود دارند . این تفاوتها را نباید نادیده گرفت و بانوجوانان مانند بچه های کوچکتر رفتار کرد ، یا همان توقعات را از آنها داشت . نوجوانان معمولاً کمتر ازکودکان از پدر و مادر اطاعت می کنند . آنان ، تمایل به استقلال وخود نمایی دارند . آزادی بیشتری میخواهند ، تحت تاثیردوستان هم سن خود هستند ، فرمان پدر ومادر را با کمی تأمل و وقت گذرانی اجرا می کنند ، میخواهند دیگران برای آنها ارزش و احترام قایل شوند و به نظر ایشان توجه کنند . هنوز به محبت ومهربانی پدر ومادر نیازدارند و درعین حال نمی خواهند این نیازبه رخشان کشیده شودو دوست دارند طرف اعتماد دیگران باشند و بزرگ و دانا محسوب شوند . با وجود این خصوصیات در اعمال و رفتار شان اشتباه کاری وعدم تعادل و تردید وتزلزل مشاهده می شود . ازسرزنش وتحقیر به خصوص درمحضر دیگران بسیارناراحت می شوند .

نوجوانان به لباس ، کتابها ، وسایل ابزار کار و لوازم مخصوص خود حساس هستند و دوست ندارند بی اطلاع و برخلاف میل شان کسی به آنها دست بزند یا ازجا بیجا بشان کند . ممکن است گاهی در خورد وخوراك و خواب وحرکات بدنی زیاده روی کنند واز حد اعتدال بیرون بروند . آنان بامسایل و مشکلات دیگري نیزدر گیراند که جنبه، اختصاصی دارد . پدران ومادران با دقت و مراقبت درحالات و رفتار فرزندانشان میتوانند از آنها آگاهی یابند . توجه به حالات وخصوصیاتیکه معمولاً درهمه نوجوانان کم وبیش به صورت ها ی مختلف وجود داردبسیارضروری ومهم است ، هدایت ورعایت این حالات ومدارا کردن بانوجوانان تا زمانیکه آهسته ، آهسته به تعادل و آرامش لازم برسند ، ازوظایف مهم پدران ومادران است . اگرخصوصیات دوره، نوجوانی نادیده گرفته شود و والدین بخواهند با نوجوانان مانند کودکان ، که کاملاً مطیع و فرمانبردار پدر و مادر هستند وحتی در مقابل لت و کوب اعتراضی نمی کنند ، رفتارکنند ، برای آنها پذیرفتنی نیست و عکس العمل های شدیدی از خود نشان خواهند داد . ممکن است اعتراض خود را ظاهر نکنند ولی در درون آنها غوغایی بر پا خواهد شد که تحمل آن راندارند و به ناراحتی روانی و پرخاشگری دچارمی شوند و یا هوای فرار ازخانه به سرشان می زند، تشویق و تائید کارهای خوب و شایسته، بیش ازتذکر وانتقاد ازکارهای ناشایسته نوجوانان موثر است وبه تحکیم رفتارهای خوب آنها می انجامد .

